AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۲/۰۹/۱۶

# خونړي مثلثونه

آیا زموږ سیمه - خدای مه کړه - د سوریه کېدو Syrianization خواته ټېل وهل کیږي؟
د تیلو او اینرژۍ پر سر له راپورته شویو سیالیو جوړ کړکېچ چې لسیزې لسیزې یې منځنی ختیځ پر اور اړولی و، اېشنده لاوا یې له سوریې او عراق څخه په فوران راووته او یو خورا لرغونی تمدن یې ایرې کړ.

له ۲۰۱۱ میلادي راپه دېخوا چې (سوري معارضان) د بشار اسد په وړاندې راپاڅېدل او له وسله والو ځواکونو بېل شوي پوځیان له النصره او نورو سنیانو سره یوه خوا او په استبداد واکمن شوی بشار اسد له بلې خوا سره ښکرې اړم کړې، نو په دا منځ کې د تورو بیرغونو افراطي خونړۍ ډله رامنځ ته شوه، چې د بشریت په تاریخ کې یې د وحشتونو د ننداري یوه بوږنوونکې زمانه راپیل کړه.

د کوردانو له باروتي غوندیو د اور لیکه د تورکیې تر پولو ورسېده او عراق خو لا وخته د لنبو په دوزخ اوښتی و، سیمه ټوله لوخړو په سر واخیسته. انګریز، امریکا، تورکیې، روسانو او بیا د نړۍ هرچا او هرځای د خپلو ګټو یا ویرې له امله پښه ورننه ایسته...

کوردان او ایزېدیان لومړۍ درجه او نور سوریان و عراقیان په ټولیزه بڼه د جګړې قربانیان وو او دي. بېرحمي نړۍ تېلو، ګازو او د سوریې و عراق د لرغوني تمدن بډایو موزیمونو او تاریخي میراثونو ته سترګې نیولې وې، څه یې لوټ او څه یې ویجاړ کړل...

خونړي مثلثونه (اسد، پاڅونوال او توربیرغي ترهګر) لوبېدل، کیسه هم معلومه نه وه، چا ویل: سوریان او عراقیان باید د اسلامی حکومت خوند وڅکی، چا ویل : ولسواکي غواړو او د اسد دیکتاتوري له زغمه وتلې ده، بل ویل: بهرني دوښمنان او ترهګر زموږ ملي حاکمیت او ځمکنی بشپړتیا ګواښي او موږ یې دفاع کوو. ایران، تورکیه، روسیه، امریکا او ناټو ټول لګیا ول او هري ډلې ته یې پیسې و وسلې ورکولې. لوبه جوړه وه او لا هم روانه ده...
[په عراق و سوریه کې چې توربیرغي ترهګره ډله جوړه کړای شوه، ما د سیمه ییزو حالاتو د یوه څېړونکي په توګه، د افغانستان پخواني ولسمشر ښاغلي کرزي ته دا وړاندوینه تر غوږه وررسوله، چې دا بلا په چټکې افغانستان ته رارسېدونکې ده. خبره مې په حیرانتیا واورېدل شوه، خو دا چې په اړه یې څه وشول که نه؟ روسته پوه نه شوم.]
کاشکې زما ویره ناسمه وي.

دغسې یو خونړی مثلث دلته هم په رامنځته کېدو دی. دوه وسله وال لوري، درېیم اړخ ته توربیرغي او د ټولو تر شا هماغه ملاتړي، ټولو ته په برابره یا لړ و ډېر توپیر سره د وسلو او پیسو رارسېدل، د افغانانو پرېمانه وینې بهېدل، کینې، کرکې، دوښمنی او د وینو پورونه زیاتېدل، شخړې قومي کول او ټوله سیمه پر اور اړول؛ کټ مټ د سوریې د موډلونو تکرار ښیي.

د کوردانو او ایزېدیانو په شان د قربانی لومړۍ کرښې ته هم له بده مرغه او بیا هم له بده مرغه ملتپال، مذهبي اقلیتونه، روښانفکران او ښځې ټاکل شوي او د کوردستان ویشل شوې جغرافیې ورته والی هم د پښتنو او بلوڅو د وېشل شوې جغرافیې موډل دی. دا ځل به د خونړي مثلث یو کونج تر ډیورند پورې غاړه وي، چې تور ګاونډی په کې خپل مخالف قومونه وځپي او ځمکې ترې راخپلې کړي.

د خونړیو مثلثونو له هر کونجه وینې بهیږي، خدای دې زما ویره ناسمه کړي، تاسو وواياست:

آمین.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ